# پخپله ځان څنګه جلا کړئ



## پخپله د ځان جلا کول څه معني لري؟

پخپله د ځان جلا کول پدې معني دي چې ناروغ خلک د هغه خلکو نه جلا او لیرې شي څوک چې ناروغ ندي.موخه دCOVID-19 د خپریدو مخنیوی کول دي.

**هغه خلک چې COVID-19 لري اړ دي چې د 10 ورځو لپاره خپل ځان جلا کړئ یا تر هغه وخت پورې چې د روغتیا پاملرنه وړاندې کونکی یې ترخیص نکړي نو پدې توګه به هغوی ویروس خپور نکړي او نور خلک به ناروغ نشي.**

## زه څنګه پخپله ځان جلا کړم؟

پخپله د ځان جلا کول ننګونکي کیدی شي ځکه چې دا معني لري :

- د روغتیایي پاملرنې نه علاوه په کور پاتي شئ
- که ممکن وي، په کور کې د نورو خلکو نه جلا خونه کې واوسیږئ او جلا حمام وکاروئ
- د عام شیانو او سطحو لمس کولو نه ډډه او مخنیوی وکړئ؛ هغه سطحې پاکې او عفونیت یې لیرې کړئ چې تاسي یې ډیرې لمس کوئ، لکه تلیفونونه، د دروازې لاستي او تشناب
- خپل لاسونه ډیرځله په صابون او اوبو لږترلږه د 20 ثانیو لپاره ومینځئ.لاسونه مو په یوځل کاریدونکي کاغذي دستمال وچ کړئ، یا که بیاځل کاریدونکی لاس پاک کاروئ نو چې کله لوند شي باید هرو مرو یې بدل کړئ.

## زه څومره وخت لپاره اړ یم چې خپل ځان جلا کړم؟

حتی که علایم هم ونلرئ، نورو ته د COVID-19 خپریدو امکان شتون لري.

هغه خلک چې COVID-19 لري:

- د علایمو د پیل نه وروسته لږترلږه د 10 ورځو لپاره په کور پاتي شئ، *او*
- د تبې د ختمیدو نه وروسته (د تبې کمولو درملو کارولو پرته) او د علایمو د ښه کیدو نه وروسته لږترلږه 24 ساعتونه په کور پاتي شئ.

**حتی که تاسي د ناروغی علایم نلرئ یا د ناروغی احساس نه کوئ، وروسته لدې چې د لومړي ځل لپاره په تاسي کې COVID-19تشخیص شي د 10ورځو لپاره خپل ځان جلا کړئ.**

## په اړیکه کې اوسئ

**که ستاسي د ناروغی علایم شدید کیږي، سمدلاسه خپل د روغتیا پاملرنې وړاندې کونکي سره اړیکه ونیسئ.**

د ځینې خلکو لپاره پخپله د ځان جلا کول اسانه وي، مګر د ځینې نورو لپاره بیا دا کار ډیر سخت وي. دا په ځانګړې توګه د هغه خلکو لپاره مشکل دی څوک چې:

- د کور نه کار نشي کولی
- یوازې ژوند کوي
- معیوبیتونه لري یا
- په خپل کور کې د نورو خلکو پاملرنه کوي.

**که مرستې ته اړتیا لرئ نو دلته دا ځینې سرچینې دي:**

- د 211info.org نه لیدنه وکړئ یا 211 ته تلیفون وکړئ.
- د اوریګون روغتیا پلان غړي کولی شي د ohp.oregon.gov سره اړیکه ونیسي.
- ستاسي دروغتیا ځایي یا قومي اداره تاسي سره د سرچینو موندلو کې مرسته کولی شي.
- د مرکزي اوریګون سرچینې په www.centraloregonresources.org کې موندلی شئ.

**اسنادو ته لاسرسی:** د هغه افرادو لپاره چې معیوبیت لري یا هغه افراد چې د انګلسي پرته په کومه بله ژبه غږیږي، د هغوی لپارهOHAکولی شي معلومات به بدیل بڼو وړاندې کړي لکه نورو ژبو ته ژباړه، غټ چاپ، یا بریل.د روغتیامعلوماتو مرکز سره په1-971-673-2411، 711 TTYیا پهCOVID19.LanguageAccess@dhsoha.state.or.us اړیکه ونیسئ.